د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت

د عدلیې وزارت

# رسمي جریده

شمارهٔ هفدهم – ۱۵ قوس سال ۱۳۵۹ نمبر مسلسل (٤٦٧)

# درین شماره

۱ـ ضمیمه شماره پنجم قانون مامورین دولت .

۲ـ مقرره کدرعلمی پوهنتونهای وزارت تحصیلات عالی و مسلکی جمهوری دموکراتیک افغانستان.

۳ـ ضمیمه شماره چهارم قانون پاسپورت


مدیر مسوول : غفار گرامی

معاون : روگل نوری

مهتمم : نور علم

# رسمی جریده

## د عدلیی محترم وزارت ته !

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا رئیسه هیأت د ۱۳۵۹ کال د عقرب‌دمیاشتی د نه ویشتمی نیتی په غونډه کښی د دولت د مامورینو د قانون دپنځمی ګڼی ضمیمی په بنا دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت د وزیرانو د شورا د ۱۳۵۹ کال د عقرب دمیاشتی د څلرویشتمی نیتی «۲۶۰۲»ګڼه پریکړه په دری مادو کښی تائید او تصویب کړه .

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د رئیسه هیأت د تصویب مراتب چی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د محترم رئیس له خوا منظور شوی او د انقلابی شورا د رئیسه هیأت د ۱۳۵۹ کال دقوس د میاشتی د شپږمی نیټی په (۱۳۰۹) ګڼه فرمان عظمی‌صدارت ته ابلاغ شوی تاسی ته خبر درکړ شو چی په رسمی جریده کښی یی خپرید لوته اقدام وشی .

**سلطانعلی کشتمند**

**د انقلابی شورا د رئیس مرستیال**

**او د صدراعظم مرستیال**

## به وزارت محترم عدلیه !

هیات ریسه شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان در جلسه تاریخی ۲۹ر۸ر۱۳۵۹ فیصله شماره «۲۶۰۲» جلسه مورخ ۲۴ر۸ر۱۳۵۹ شورای وزیران جمهوری دموکراتیک افغانستان را مبنی بر ضمیمه شماره پنجم قانون مامورین دولت بداخل سه ماده تائید و تصویب نمود .

مراتب تصویب هیات رئیسه شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان که به منظوری محترم رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان رسیده و به فرمان شماره (۱۳۰۹) مورخ ۶ر۹ر۱۳۵۹ هیات رئیسه شورای انقلابی به صدارت عظمی ابلاغ گردیده بشما خبر داده شدتا در نشر آن در جریده رسمی اقدام گردد .

**سلطانعلی کشتمند**

**معاون رئیس شورای انقلابی**

**و معاون صدراعظم**

## ددولت د مامورينو د قانون پنځمه ګڼه ضميمه

**لومړی ماده :**

(۱) که چيری د پوهنتون د علمی کدر غړی د ماموريت له پيل نه تقاعد ته د سوقيدلو تر وخته پوری د پوهنتون په علمی کدر کښی خپلی دندی ته دوام ورکړی د علمی کدر له وروستی درجی نه چی په لاس يی راوړی را ولاړه شوی د معاش ضميمه يی دتقاعد د حقوقو په سنجولو کښی په سلو کښی سل دمعاش د جز په‌ډول شامليږی.

(۲) که چيری د پوهنتون دعلمی کدر غړی د دولت په اراده په نورو ادارو کښی موظف شی ، د علمی کدر معاش يی په کدر کښی د خدمت دمودی په تناسب دتقاعد په حقوقو کښی محاسبه کيږی .

**دوهمه ماده :**

د علمی کدر د درجو په پام کښی نيولو سره اجباری سن ته د رسيدلو په اساس د پوهنتون د علمی کدر د غړو تقاعد په لاندی ترتيب صورت مومی :

الف : پوهاند او پوهنوال د پنځه شپيته کلنی دعمر له بشپړيدلو وروسته .

ب : پوهندوی او پوهنمل د شپيته کلنی د عمر له بشپړيدلو وروسته .

## ضميمه شماره پنج قانون مامورين دولت

**ماده اول:**

(۱) هرگاه عضو کدر علمی پوهنتون از تاريخ آغاز ماموريت الی زمان سوق به‌تقاعد بوظيفه خود درکدر علمی پوهنتون ادامه بدهد ضميمه معاش ناشی از آخرين درجه کدر علمی ايکه حايزشده است صدفيصد بحيث جز معاش در سنجش حقوق تقاعد وی شامل ميگردد.

(۲) هر گاه عضو کدر علمی پوهنتون باراده دولت ، در ساير ادارات موظف گردد ، معاش کدر علمی او به تناسب مدت خدمت در کدر ، در حقوق تقاعد محاسبه ميگردد .

**ماده دوم :**

تقاعد اعضای کدر علمی پوهنتون باساس رسيدن به سن اجباری با رعايت درجات کدر علمی به ترتيب اتی صورت ميگيرد :

الف : پوهاند و پوهنوال بعد از تکميل سن شصت و پنج سالگی .

ب : پوهندوی و پوهنمل بعد از تکميل سن شصت سالگی .

# رسمي جريده

د پو هنتون رياست کولای شي چي د ضرورت په وخت کښي او د علمي کدر د غړي اختصاص ته د اړتيا په وخت کښي د تقاعد نه پرومبی زيات نه زيات تر پنځه کاله پوري د هغه د خدمت دوام حکومت ته پيشنهاد کړي .

د خدمت د دوام موده د علمي کدر د ټولو حقوقو متضمنه ده .

**دريمه ماده :**

دغه ضميمه په رسمي جريده کښي د خپريدلو له نيټي نه نافذ يږي .

رياست پو هنتون ميتواند هنگام ضرورت و احتياج به اختصاص عضو کدر علمي قبل از سوق به تقاعد دوام خدمت او را حد اکثر تاپنج سال به حکومت پيشنهاد نمايد .

مدت دوام خدمت متضمن همه حقوق کدر علمي ميباشد .

**ماده سوم :**

اين ضميمه ، از تاريخ نشر در جريده رسمي نافذ ميگردد .

# رسمي جریده

## د عدلیی محترم وزارت ته !

د وزیرانو شورا په «۲۶۰۷» گنه پریکړه کښې د ۱۳۵۹ کال د عقرب د میاشتې د خلرو یشتمې نیټې په غونډه کښې د عدلیې د وزارت د ۱۳۵۹ کال د میزان د میاشتې د پنځلسمې نیټې (۱۸۴۲) گڼې عرض پاڼې ته په کتنه لاندې مراتب تصویب کړل :

«د لوړو او مسلکي زده کړو د وزارت د پوهنتو نونو د علمي کدر د غړو مقرره په یو دیرش مادو کښې منظورده . په رسمي جریده کښې دې خپره شي .»

د وزیرانو د شورا د تصویب مراتب چې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د محترم رئیس له خوا منظور شوي تاسې ته خبر درکړ شو څو چې نوموړې مقرره په رسمي جریده کښې خپره شي .

په درناوی .

**عبد المجید سر بلند**
**د اطلاعاتو او کلتور وزیر**
**او د وزیرانو د شورا منشي**

## به وزارت محترم عدلیه !

شورای وزیران تحت فیصله شماره «۲۶۰۷» در جلسه تاریخی ۲۴ر۸ر۱۳۵۹ با ملاحظه ورقه عرض شماره (۱۸۴۲) مورخ ۱۵ر۷ر۱۳۵۹ وزارت عدلیه مراتب اتی را تصویب نمود :

«مقرره اعضای کدر علمی پوهنتو نهایی وزارت تحصیلات عالی و مسلکی بداخل سی و یك ماده منظور است . در جریده رسمی نشر گردد .»

مراتب تصویب شورای وزیران که به منظوری محترم رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیك افغانستان رسیده بشما خبر داده شد تا مقرره مذکور در جریده رسمی نشر گردد .

بااحترام

**عبد المجید سر بلند**
**وزیر اطلاعات و کلتور و**
**منشی شورای وزیران**

# رسمی جریده

## د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د لوړو او مسلکی زده کړو د وزارت د پوهنتونونو د علمی کدر د غړو مقرره

## لومړی فصل

## عمومی حکمونه

**لومړی ماده :**

دغه مقرره د لوړو او مسلکی زده کړو د وزارت د پوهنتونونو د علمی کدر په غړو پوری د مربوطو چارو د تنظیمولو په منظور وضع شوی ده .

**دوهمه ماده :**

د پوهنتون د علمی کدر غړی هغه څوك دی چی د پوهنځیو په کوم دیپارتمنت یا د پوهنتون په موسسو کښی علمی درجه ولری د تدریس یا تحقیق په چارو بوخت وی .

**دریمه ماده :**

د پوهنتون د علمی کدر غړی په دری ردیفونو او شپږ علمی رتبو په لاندی ډول ویشل کیږی :

د الف ردیف : پوهاند (پروفیسر) .

د ب ردیف : پوهنوال او پوهندوی (اسوشیت پروفیسر).

د ج ردیف : پوهنمل ،پوهنیار او پوهیالی (اسیستانت) .

## مقرره اعضای کدرعلمی پوهنتون های وزارت تحصیلات عالی ومسلکی جمهوری دموکراتیك افغانستان

## فصل اول

## احکام عمومی

**ماده اول:**

این مقرره جهت تنظیم امور مربوط به اعضای کدر علمی پوهنتون های وزارت تحصیلات عالی ومسلکی وضع گردیده است .

**ماده دوم:**

عضوکدر علمی پوهنتون شخصی است که در یکی از دیپارتمنت های پوهنځی ها یا موسسات پوهنتون حایز درجه علمی بوده به امور تدریس ویا تحقیق علمی اشتغال داشته باشد .

**ماده سوم :**

اعضای کدر علمی پوهنتون به سه ردیف وشش رتبه علمی قرار ذیل تقسیم میگردند :

ردیف الف: پوهاند (پروفیسور)

ردیف ب : پوهنوال وپوهندوی (اسوشیت پروفیسر )

ردیف ج: پوهنمل، پوهنیار و پوهیالی (اسیستانت )

**خلورمه ماده :**

د پو هنتون د علمی کدر غړی د تدریس په دندی برسیره دلاندی چارو په پای ته رسولو هم مکلف دی :

۱ـ د محصلانو د علمی کار لار ښوونه او ارزیابی .

۲ـ د علمی اداری چارو پرمخ بیول د پو هنځیو اود علمی مربوطو موسسو د علمی غړو لار ښوونه .

۳ـ د علمی کدر د غړودتحقیقاتو او علمی اثارو په هکله تدقیق او د نظر څرگندول .

٤ـ په کمیټو کښی گډون کول او د پوهنځی او پوهنتون په آکادمیکو چارو کښی ونډه اخستل.

٥ـ په هغو مو ضو عاتو کښی چی د پوهنځی یا پوهنتون له خوا ټاکل کیږی علمی تحقیق کول .

٦ـ د پو هنتون د خپرونو سره علمی همکاری کول .

۷ـ د علمی اثـارو تالیف او ترجمه .

۸ـ د محصلانو تر بیوی کار .

**پنځمه ماده :**

د پو هنتون د علمی کدر غړی د اکا د میکو دندو د ماهیت په اساس د ماموریت پر معاش برسیره د علمی کدر د میاشتنی‌معاش هم په لاندی ډول مستحق‌کیږی:

**ماده چهار م:**

اعضای کدرعلمی پو هنتو ن علاوه بروظیفه‌تدر یسس مکلف به انجـام امورا تی نیز میباشند :

**۱ـ ر هنمایی و ارز یـابی کـار** علمی محصلان.

۲ـ پیشبرد امور ادا ری علمی‌و رهنمایی اعضای علـمی پو هنځـی هاومو سسات علمی مر بو ط.

۳ـ تد قیق وابراز نظر در مورد تحقیقات وآثار علمی اعضای کـدر علمی.

٤ـ اشتراك در کمیته هاوسهم ـ گیری در اموراکاد میك پو هنځـی‌و پو هنتون .

٥ـ تحقیق علمی در مو ضوعاتیکه ازطر ف پو هنځی یاپوهنتون تعیین میشود .

٦ـ همکاری علمی با نشر یه های پوهنتون .

۷ـ تالیف‌وترجمه‌آثار علمی .

۸ـ کار تر بیوی محصلان .

**ماده پنجم:**

عضو کدر علمی‌پو هنتو ن‌بنا بر ما هیت وظایف اکا د میك علاوه بر معاش مامور یت مستحق معا شـ ما هوار کدر علمی به تر تیب‌ذیـل نیزمیباشد :

۱ـ پو هیالی ۱۰۰۰ افغانی
۲ـ پو هنیار ۱۵۰۰ افغانی
۳ـ پو هنمل ۲۰۰۰ افغانی
٤ـ پو هندوی ۳۰۰۰ افغانی
٥ـ پوهنوال ٤۰۰۰ افغانی
٦ـ پوهاند ٥۰۰۰ افغانی

**شپږمه ماده :**

د پو هنیار او پوهنمل نامـــزد د نامزدی په دوره کښی د علمی کدر دپخوانی درجی دمعاش مستحق کیږی.

د پو هیالی نامزد نشی کـولای چی د علمی کدر د معاش نه استفاده وکړی .

**اومه ماده :**

د علمی کدر معاش درخصتیو او د خدمت د موقعیت په ورځو کښی د رتبوی معاش په شیر دورکـــړی وړ دی . د علمی کدر مشمو لیـــن نشی کولای چی په رسمی وخـــت کښی دننه له حق‌الزحمی نه استفاده وکړی .

**اتمه ماده :**

که چیری د علمی کدر غــړی د لوړو او مسلکی زده کړو د وزارت په اداری پستونو کښی مقرر شـــی په هغه صورت کښی د علمی کدرله حقوقو نه استفاده کولای شـــــی چی په اونی کښی لږ تر لږه شپږ ساعته تدریسی دنده یا علمی تحقیق

| | |
|---|---|
| ۱ـ پو هیالی | ۱۰۰۰ |
| ۲ـ پوهنیار | ۱٥۰۰ |
| ۳ـ پوهنمل | ۲۰۰۰ |
| ٤ـ پو هندوی | ۳۰۰۰ |
| ٥ـ پوهنوال | ٤۰۰۰ |
| ٦ـ پوهاند | ٥۰۰۰ |

**ماده ششم :**

نا مزدپو هنیار وپو هنمل دردوره نا مزدی مستحـق معا ش کدر علمی درجه قبلی میباشد .

نا مزد پوهیالی نمیتوا ند ازمعاش کدرعلمی استفاده نما ید.

**ماده هفتم :**

معاش کدر علمی در ایا م رخصتی ومو قعیت خد مت ما نند معا شـــ رتبوی قا بل پردا خت میباشد مشمو- لین کدر علمی نمیتوا نند در دا خل وقت رسمی از حق الز حمه استفا ده کنند.

**ماده هشتم:**

هرگاه عضو کدر علمی در پســـت های اداری وزارت تحصیلا ت عا لـــی ومسلکی مقرر شود . درصورتی از حقوق کدر علمی استفا ده کرده می تواند که حد اقل شش سا عت در هــفـتـه و ظیفــه تــد ر یس یــا تحقیق علمی را انجام د هد. وزیـــر

پاي ته ورسوي . د لوړو او مسلکي زده کړو د وزارت وزير او علمي معين چې پخوا د پو هنتون د علمي کدر غړي وي او د پوهنتون رئيس له دې حکمه مستثنی دي .

**نهمه ماده :**

که چيرې د علمي کدر غړي د واکمنو مقاماتو په خوښه د علمي کدر د حقوقو په ساتلو سره د لوړو او مسلکي زده کړو د وزارت نه بهر موظف شي ، د علمي کدر معاش مستحق نه دي او که چيرې په اوني کښې لږ تر لږه څلور ساعته د تدريس دنده پای ته ورسوي د دې مقررې د شپاړسمې مادې مندرج د ترفيع د شرايطو په پام کښې نيولو سره د لوړو او مسلکي زده کړو د وزارت نه بهر يې د توظيف موده يواځې د هغه دعلمي ترفيع په قدم کښې شميرل کيږي .

**لسمه ماده :**

د علمي کدر غړي چې په بهر کښې په زده کړه بوخت وي د بور سونو او په بهر کښې د زده کړې د مقرراتو د مندرجو احکامو سره سمه ورسره تلنه کيږي .

**يوو لسمه ماده :**

که څوك له پو هنتون نه بهر په دنده کښې شامل وي او د تدريس اهليت ولرې که چيرې ضرورت

ومعين علمی وزا رت تحصيلا ت عا لی ومسلکی که قبلا اعضای کدر علمی پوهنتون بوده باشند ور ئيس پوهنتون از اين حکم مستثنی ميباشند.

**ماده نهم :**

هر گاه عضو کدر علمی نظر به **صوابديد مقا مات ذيصلاح باحفظ** حقوق کدر علمی خار ج از وزا رت تحصيلات عا لی و مسلکی مو ظف گردد، مستحق معاش کدرعلمی نبوده ودر صور تيکه حد اقل چهار ساعت درهفته وظيفه تدريس را انجام دهد بارعايت شرا يط تر فيع مندرج ماده «شا نزده» اين مقرره مدت تو ظيف وی در خارج ازوزا رت تحصيلات عالی ومسلکی صر فدر قدم تر فيع علمی اومحسو ب ميگردد.

**ماده دهم:**

عضو کدر علمی که در خارج مصروف تحصيل ميباشد ،مطا بق به احکا م مندرج مقر رات بور سها وتحصيل درخارج باوی رفتار ميشود .

**ماده يازد هم:**

شخصيکه خارج ازپوهنتون شامل وظيفه **بوده ودارای اهليت تدريس باشد در** صور تيکه ضرو رت ايجاب نما يد بعد

ایجاب کاندی د استادانو د مجلس له منظوری او د پو هنتون د رئیس له موافقی نه وروسته کولای شی چی د حق الزحمی په مقابل کښی تدریس وکړی .

**دولسمه ماده :**

د پو هنتون د علمی کدر غړی د دولت د مامورینو د قانون په حکمو نو بر سیره د دی مقرری د حکمو نو تابع هم دی .

**دوهم فصل**

**د شمول ، تقرر او ترفیع شرایط**

**دیار لسمه ماده :**

د پو هنتون په علمی کدر کښی شمول د لاندی شرطونو مستلزم دی :

الف : د پو هیالی د نامزد په ډول :

۱ـ د لیسانس تحصیلات دی ولری .

۲ـ د هغه عمر دی له (۲۸) کلنونه زیات نه وی .

**ب: د پوهنیار د نا مزد په ډول :**

۱ـ د ماستری دیپلوم یا دهغی معادل دی ولری .

۲ـ د هغه عمر دی له پنځه دیرش کلونو نه زیات نه وی .

**ج: د پوهنمل د نامزد په ډول:**

هغه څوك د پو هنمل د نامزد په

از منظوری مجلس استا دان و موافقه رئیس پوهنتون میتواند در مقا بل حق الزحمه تدریس نماید .

**ماده دواز د هم:**

اعضای کدر علمی پو هنتو ن علاوه براحکام قانون مامور ین دو لت تابع احکام این مقرره نیز میباشند.

**فصل دوم**

**شرایط شمول ، تقرر وترفیع**

**ماده سیزد هم :**

شمول در کدرعلمی پو هنتو ن مستلزم شرا یط ذیل است :

الف: بحیث نامزد پوهیالی :

۱ـ دا رای تحصیلات لیسا نس باشد.

۲ ـ سن او ازبیست و هشت سال متجاوز نباشد .

**ب: بحیث نامزد پوهنیار :**

۱ـ دا رای دیپلوم ما ستری یا معادل آن باشد .

۲ـ سن او از سی و پنج سال متجاوز نباشد .

ج: بحیث نامزد پو هنمل :

**شخصی بحیث نامزد پوهنمل پذیرفته**

دوول مثل کیدلای شی چی د دکتورا (پی ، اچ ، دی) دیپلوم یا د هغی معادل ولری .

د پو هنتون په علمی کدر کښی د شمول نور شرایط د ځانگړی لایحی په واسطه تنظیمیږی .

**خوارلسمه ماده :**

د پوهنتون د علمی کدر د غړی مقرری د پوهنځی د استادانو د مجلس له موافقی ، د پو هنتون د رئیسانو د مجلس له تصویب او د لاندی مقاماتو له منظوری وروسته صورت مومی :

۱ـ د الف د ردیف غړی د لوړو او مسلکی زده کړو د وزیر په پیشنهاد او د عظمی صدارت د مقام په منظوری .

۲ـ د (ب) او (ج) د ردیفونو غړی د پو هنتون د رئیس په پیشنهاد او د لوړو اومسلکی زده کړو د وزیر په منظوری .

۳ـ د پوهنیار او پوهنمل نامزد د پوهنتون د رئیس په پیشنهاد او د لوړو اومسلکی زده کړو ،د وزیر په منظوری .

۴ـ د پو هیالی نامزد د پوهنځی د ریاست په پیشنهاد او د پوهنتون د رئیس په منظوری .

**پنځلسمه ماده :**

هغه چاچی د یوی علمی رتبی د نامزدی دوره د دیپار تمنت د

**شده می تواند که دارای د یپلوم** دکتورا «پی ،اچ ،دی» یا معادل آن باشد.

سایر شرایط شمول در کدر علمی پو هنتو ن توسط لایحه جداگانه تنظیم میگردد.

**ماده چهاردهم :**

تقرر عضو کدرعلمی پو هنتون بعد ازموافقه مجلس استادان پوهنځی، تصویب مجلس روسا پو هنتو ن و منظوری مقامات آتی صورت می گیرد:

۱ـ اعضای ردیف الف به پیشنهاد **وزیر تحصیلات عالی و مسلکی و** منظوری مقام صدارت عظمی .

۲ـ اعضای ردیف های ب و ج به پیشنهاد رئیس پو هنتو ن و منظوری وزیر تحصیلات عالی و مسلکی .

**۳ـ نامزد پو هنیار و پوهنمل** به پیشنهاد رئیس پوهنتون و منظوری وزیر تحصیلات عالی و مسلکی .

۴ـ نا مزد پو هیالی به پیشنهاد ریاست پو هنځی ومنظوری رئیس پوهنتون.

**ماده پا نزدهم:**

**اشخا صیکه دوره نا مزدی یک** رتبه علمی راطبق پروگرام دیپارتمنت

پرو گزام سره سمه په بریالـــی
ډول پای ته رسولی وی ، د مربوط
دیپارتمنت لهسپارښتنی، دپو هنځی
د استادانو د مجلس له موافقی د
پو هنتون د رئیسانو د مجلس له
تصویب او د واکمنو مقاماتو لــه
منظوری وروسته په علمی اصـــل
رتبه کښی مقرر یږی .

**شپاړسمه ماده :**

د پو هنتون د کدر د علمی غړو
ترفیع په هره رتبه کښـــی د دری
کلونو په تیرولو او د تشس بســت
په شته والی بر سیره د لانـــدی
**شرطونودبشپړولو مستلزمهم ده :**

**الف : د پو هنیـــار رتبی تــه د**
پوهیالی ترفیع :

۱ــ د لار ښوونکی استاد لهخوا
د علمی فعالیت د کلنی راپـــــــور
**وړاندی کول او د دیپارتــمنت د**
استا دانو له خوایی **تائید یدل ..**

۲ــ د یوی علمی موضوع لیکنه
یا ژباړه او د رهنما استاد لهخوایی
تائید یدل .

**ب: د پو هنمل ر تبی تهدپوهنیار**
ترفیع :

۱ــ د لار ښوونکی استاد له خوا
د علمی فعالیت د کلنی راپـــــور
وړاندی کول او د دیپار تمنـت د
استادانو له خوایی تائیدیدل .

۲ــ د یو علمی اثر لیکنه یاژباړه
چی علمی ارزښت یا د ژبـــــاړی

**مـو فـقانه سپری نمو ده باشند**
بعد ازسفار شدیپار تمنت مر بو ط،
موافقه مجلس استا دان پو هنځــی
تصویب مجلس روسا ی پو هنتو ن
ومنظوری مقا مات ذیصلاح به ا صل
رتبهعلمی مقرر میشوند .

**ماده شانزدهم :**

ترفیع اعضای کدر علمیپو هنتون
برعلاوه سپری نمود ن مدت سهسال
در هر رتبهومو جودیت بست خالی
مستلزم تکمیل شرا یطذ یل نیـــز
میباشد :

الف: تر فیع پو هیا لی به رتبـــه
پو هنیار :

۱ــ ارائه راپور سا لا نه فعالیت
علمی تو سط استاد رهنما وتا یید آن
ازطر ف مجلس استا دان دیپار تمنت.

۲ــ تحر یر یا تر جمه یك موضوع
علمی وتایید آن ازطر ف استاد رهنما.

ب: ترفیع پوهنیاربه رتبهپوهنمل:

۱ــ ارائهراپور سا لانه فعا لیت
علمی تو سط استاد رهنما وتا یید آن
ازطر ف مجلس استا ان دیپارتمنت.

**۲ــ تحریر یا تر جمه یك اثر علمی**

سموالي يې د لار ښوونکی استادله خوا تائيد شي .

ج : دپو هندوی رتبـــی ته د پوهنمل ترفيع :

۱ـ د لار ښوونکي استاد له خوا د علمي فعاليت د کاني راپــور وړاندې کول او د ديپار تمنت د استادانو له خوايي تائيد يدل .

۲ـ د يوی تحقيقي علمي رسالی ليکل او د هغو دری تنو استادانـو له خوايي تائيد يدل چې د پوهنځی د استادانو د مجلس له خوا ټاکل شوی وی .

د ديپار تمنت د اړتيا وړ ديـــو درسي کتاب ژباړه چې د ژبـاړې سموالي يې د هغه استاد له خــوا چې د پوهنځي د مجلس له لـــوری ټاکل شوی وی تائيد شــوی وی د يوی علمي تحقيقي رسالـــی د ليکلو پر ځای منل کيدلای شي .

۳ـ لږ تر لږه د خلورو علمي او تحقيقي اثرونو در لودل او پــه کورنيو يا بهرنيو معتبرو نشراتـو کښي يې خپرول .

٤ـ د ديپار تمنت د استادانـــو د مجلس له خوا په تدريس کښي دبريا ليتوب تائيد يدل .

٥ـ پهغو موضو عاتو کښي چې پخوا د ديپار تمنت د استادانـــو د مجلس له خوا ټاکل شـوی وی د استادانو او محصلانو په وړاندی

که‌ا رزشي علمي يا صحت ترجمه آن توسط استاد رهنما تاييد شود .

ج : تـــر فيـــع پو هنمـل بـه رتـبـه پـو هنـد وی :

۱ـ ارائه راپور سا لانه فعا ليت علمي تو سط استاد رهنما وتا ييدآن از طر فاستادان ديپار تمنت .

۲ـ تـحرير يك ر ساله عـلمي تحقيقي وتا ييد آن از طر ف سه نفر استا ديکه از طر فمجلس‌استادان پوهنځی تعيين شده‌باشند .

ترجمه يك کتاب در سی مور د ضرورت ديپار تمنت که صحت‌ترجمه آن‌توسط استاد يکه‌از طر ف مجلس استادان پو هنځی تعيين شده باشد تاييد گرديده‌باشد عو ض تحر ير يك رساله علمي تحقيقي قبول شده مـی تواند.

۳ـداشتن حد اقل چهار اثـــر علمي وتحقيقي وطبع‌آن در نشرا ت معتبر داخلي يا خار جي .

٤ـتاييد مو فقيت در تدر يس‌از طرف مجلس استا دان ديپار تمنت.

٥ـايراد يك کنفرا نس علمي در محضر استا دان ومحصلان در مو ـ ضوعا تيکه از طر فمجلس استادان

د یو علمی کنفرانس ایرادول او د استادانو د یو واکمن هیأت له خوایی تائید یدل .

د : د پوهنوال رتبی ته د پوهندوی ترفیع :

۱ـ د لار ښوونکی استاد له خوا د علمی فعالیت د کلنی راپور وړاندی کول او د دیپار تمنت د استادانو له خوایی تائید یدل .

۲ـ د لار ښوونکی استاد له خوایی په تدریس او اختصاصی څانگه کښی د علمی تحقیق د بریالیتوب تائید یدل .

۳ـ د یو بکر علمی اثر لیکل چی د دری تنو پوهنوالانو یا پوهاندانو له خوا تائید شی او کاندید د استادانو د مجلس په وړاندی ورنه دفاع وکړی .

د دیپارتمنت د اړتیا وړ د درسی علمی کتاب لیکل یا ژباړه د علمی بکر اثر پرځای منل کیدلای شی .

۴ـ ددی مادی ددریمی فقری دمندرج اثر په شمول د خدمت د کلونو په اوږدو کښی د لږ تر لږه لس علمی اثارو طبع کول چی د هغو له ډلی نه څلور اثره تحقیقی اړخ ولری .

۵ـ د هغو موضوعاتو په هکله چی پخوا د دیپار تمنت د استادانو د مجلس له خوا ټاکل شوی وی د استادانو په وړاندی د لږ تر لږه

دیپار تمنت قبلا تعیین شده باشد و تایید آن از طرف یك هیئت باصلاحیت استادان .

د : ترفیع پوهندوی به رتبه پوهنوال :

۱ـ ارائه راپور فعالیت علمی توسط استاد رهنما و تایید آن ازطرف مجلس استادان دیپارتمنت .

۲ـ تایید موفقیت در تدریس و تحقیق علمی در رشته اختصاصی از طرف استاد رهنما .

۳ـ تحریر یك اثر بکر علمی که ازطرف سه نفر پوهنوال یا پوهاند تایید و کاندید در محضر استادان از آن دفاع نماید .

تحریر یا ترجمه کتاب علمی درسی مورد ضرورت دیپارتمنت عوض اثر بکر علمی قبول شده میتواند.

۴ـ بشمول اثر مندرج فقره سوم این ماده طبع حد اقل ده اثر علمی در طول سالهای خدمت که از آن جمله چهار اثر آن جنبه تحقیقی داشته باشد .

۵ـ ایراد حد اقل دو کنفرانس علمی در محضر استادان در موضوعاتیکه ازطرف مجلس دیپارتمنت

دوه علمی کنفرا نسونو ایرادول او د دری تنو استادانو نه د جوړشوی هیأت له خوایی تائیدیدل .

هـ ـ د پوهاند رتبې تهدپوهنوال ترفیع :

۱ـ د لار ښوونکی استاد لهخوا د علمی فعالیت د کلنی راپور وړاندی کول او د دیپار تمنت د استادانو له خوایی تائید یدل .

۲ـ د یوی درنی علمی بکری رسالی لیکل .

د هغه درسی علمی کتاب لیکل چی د یو دیپار تمنت اړتیا لری کړای شی اود چاپ لپاره منل شوی وی د علمی درنی بکری رسالی پرځای منل کیدلای شی .

۳ـ د دی مادی د دوهمی فقری د مندرج اثر په شمول په کورنیو یا بهرنیو معتبرو نشراتو کښی د لږ تر لږه پنځلس علمی اثارو طبع کول چی د هغو له جملی نه پنځه اثره یی تحقیقاتی اړخ ولری .

۴ـ د دی مادی د دوهمی فقری د مندرج اثر په هکله د دری تنو پوهاندانو یا پو هنوالانو تقریظ .

**اولسمه ماده :**

که چیری د کاندید اثر د ترفیع وړ سند په توګه ونه منل شی ردوونکی مرجع مکلفه ده چی د اداری لهلاری په پنځلسورځو کښی پهلیکلی ډول کاندید تهخبر ورکړی .

قبلاتعیین شدهباشد . وتا یید آن از طرف هیئت متشکل از سه نفر استاد.

هـ : ترفیع پوهنوال بهرتبهپوهاند:

۱ـ ارائه راپورسالانهفعالیتعلمی توسط استاد ر هنما و تایید آن از طرف استا دان دیپار تمنت .

۲ـ تحر یر یك رسا له بکر وزین علمی.

تالیف کتا ب علمی در سی که ضرورت یك دیپار تمنت را مر فوع ساخته بتوا ند وبرای طبع پذ یر فته شدهباشد عو ض رساله بکروز ین علمی قبول شده میتوا ند .

۳ـ بشمول اثر مند رج فقره دوم این ماده طبع حد اقل پا نزده اثر علمی در نشرا ت معتبر داخلی یا خار جی که از آنجمله پنج اثر آن جنبه تحقیقا تی داشته باشد .

۴ـ تقر یظ سه نفر پو ها ند یا پوهنوال در مورد اثر مندر ج فقره دو این ماده .

**ماده هفده هم:**

هرگاه کا ند ید بحیث سند قا بل ترفیع قبول نگردد مر جع رد کننده ازطر یق ادا ره مکلف است مو ضوع را درظرف پا نزده روز کتبا بـه

# رسمی جریده

کاندید د ابلاغ نیټی نه په یوه میاشت کښی کولای شی د دلایلو په یادولو سره یواځی د یو ځل لپاره د نوی کتنی غوښتنه وکړی .

که چیری اثر د شکلی نیمگړتیاوو له نظره د اصلاح وړو گڼل شی ، اثر یواځی د بیا اصلاح کولو په منظور کاندید ته مسترد یږی . په دی صورت کښی کاندید مکلف دی چی اثر په پنځلس ورځو کښی د ننه اصلاح او مربوطی مرجع ته یی وسپاری .

**اتلسمه ماده :**

۱- د پوهنیار ، پوهنمل ، پوهندوی او پوهنوال علمی رتبوته **ترفیع کول د دیپارتمنت او پوهنځی** د استادانو د علمی مجلس په پیشنهاد ، د پوهنتون د علمی مجلس په تصویب او د لوړو او مسلکی زده کړو د وزارت په منظوری کیږی .

۲- د پوهاند رتبی ته ترفیع کول مربوط دیپار تمنت او پوهنځی د استادانو د علمی مجلس په پیشنهاد ، د پوهنتون د رئیسانو د مجلس په تایید ، د لوړو او مسلکی زده کړو د وزارت د علمی بورد په تصویب او د صدارت د مقام په منظوری صورت مومی .

اطلاع کاندید بر بنیاد، کاندید درظرف یکماه از تاریخ ابلاغ میتواند **باذکر دلائل ، صرف برای یک مرتبه** مطالبه تجدید نظر نماید .

درصورتیکه اثر از نگاه نواقص شکلی قابل اصلاح دانسته شود ، اثر صرف بغرض اصلاح مجدد به کاندید مسترد میگردد ، درین صورت کاندید مکلف است اثر را در خلال پانزده روز اصلاح نموده بمرجع مربوط تسلیم نماید .

**ماده هجدهم :**

۱- ترفیع به رتبه های علمی پوهنیار ، پوهنمل ، پوهندوی و پوهنوال باساس پیشنهاد مجلس **علمی استادان دیپارتمنت وپوهنځی ،** تصویب مجلس علمی پوهنتون و منظوری وزیر تحصیلات عالی ومسلکی صورت میگیرد .

۲- ترفیع به رتبه پوهاند باساس پیشنهاد مجلس علمی استادان دیپار تمنت وپوهنځی مربوط، تایید مجلس روسای پوهنتون، تصویب بورد علمی وزارت تحصیلات عالی ومسلکی ومنظوری مقام صدارت صورت میگیرد .

# رسمی جریده

**نو لسمه ماده :**

د علمی کرسی د کاندید چی د ماستری یا ورنه لوړ دیپلوم ولری د تتبع کلونه د کاندید غړی په‌علمی قدم کښی شمیرل کیږی په‌دی شرط چی تتبع او تدریس د پو هنتون په اجازه د ټاکلی پروگرام سره‌سم شوی وی او کاندید له پوهنتون او هغو موسسو څخه چی پکښی یی علمی فعالیت سرته رسولی وی رسمی علمی معتبر سندونه په لاس ولری .

**شلمه ماده :**

د علمی اثر مو ضوع چی دعلمی ترفیع لپاره د کاندید له خوا برابر یږی باید لږ تر لږه یوکال د ترفیع د مودی نه د مخه د پوهنځی د استادانو د مجلس له خوا تائید شوی وی .

**یو یشتمه ماده :**

پوهاند د خپل د خدمت په موده کښی لاندی دندی پای ته رسوی :

۱ـ په تدریس او علمی تحقیق کښی فعاله ونډه اخستل .

۲ـ په تدریس او تحقیق کښی د دیپار تمنت د غړو لار ښوونه او لوړو علمی رتبو ته د رسیدلو په منظور د هغوی سره مرسته کول .

۳ـ په هر کال کښی لږ تر لږه د دوه علمی کنفرانسو نو ایرادول.

**ماده نزد هم :**

سالهای تتبع‌یا تدر یس کاندید کرسی علمی حا یز دیپلوم‌ما ستری‌یا بالاتر از آن در قدم علمی‌عضوکاندید محسوب میگردد مشرو ط براینکه تتبع‌وتدر یس به اجا زه پوهنتون طبق‌پرو گرام معین صو رت گرفته‌و کاند ید از پوهنتون ومو سسا تیکه درآن فعالیت علمی انجام داده اسناد معتبر رسمی علمی بدست دا شته باشد .

**ماده بیستم:**

موضو ع اثر علمی که برای‌ترفیع علمی از طرف‌کا ندید تهیه میشود بایدحد اقل یکسا ل قبل‌ازموعدترفیع ازطر ف‌مجلس استا دا ن پوهنځی تایید شده‌باشد .

**ماده بیستو یکم :**

پوهاند در مد ت خد مت خود وظایف‌آتی را انجام مید هد :

۱ـ گرفتن سهم فعال در تدر یس وتحقیق علمی.

۲ـ رهنما یی اعضای دیپار تمنت در تدر یس وتحقیق وهمکا ری با آنها بمنظور وصول به رتب‌علمی بالاتر.

۳ـ ایراد اقلادو کنفرا نس علمی‌در هرسال.

٤ـ په دري کلونو کښې لږ تر لږه د دري علمي اثارو ليکل .

د يو علمي کتاب تاليف يا ترجمه چې د پوهنځی د استادانو دمجلس له خوا تائيد شوی وی د دريعلمي اثارو پر ځای منل کيدلای شي .

٥ـ د علمي اثارو اصـلاح او ارزيابی کول .

٦ـ نوری هغه دندی چـې د پو هنتون يا د پوهـنځی د اداری له خوا ور سپارل کيږی .

## خلورم فصـل

## د علمي فعاليت ارزيابـي

### دوه ويشتمه ماده :

د پو هنتون د علمي کدر د غړو علمي فعاليت د لاندی اشخاصو يـا مراجعو له خوا ارزيابی کيږی :

١ـ د پوهيالی علمي فعاليـت د هغه استاد له خواچې د پو هنمل يا ورنه لوړه علمي رتبه ولری .

٢ـ د پو هنيار او پوهنمل علمي فعاليت د هغو استادانو له خوا چې علمي رتبه يې پو هندوی يا ورنـه لوړه وی .

٣ـ د پوهندوی او پوهنوالعلمي فعاليت د هغو استا دانو له خـوا چې علمي رتبه يې پو هنـوال او يا پو هاندوی .

٤ـ د پو هاند علمي فعاليـت د لوړو او مسلکي زده کړو د وزارت د علمي بورد له خوا .

٤ـ تحر ير حد اقل سه اثر علمي درظرف سهسال .

تاليف يا تر جمه يك كتاب علمي كهاز طر ف مجلس استا دان پو ـ هنځی تاييد شمده باشد بهعو ضـ سه اثر علمي قبول شده ميتواند.

٥ ـ اصلاحوار زيا بی آثارعلمي .

٦ـ سا يروظا يفی كه از طر ف پوهنتون يااداره پو هنځی بوی سپرده ميشود.

## فصل چهار م

## ارزيا بی فعاليت علمي

### ماده بيستو دو م:

فعاليت علمي اعضای كدر علمي پوهنتون از طر ف اشخا ص يـا مراجعذيل ارزيا بی ميگردد :

١ـ فعا ليت علمي پوهيا لی تو سط استاد يكه دا رای رتبه علمي پوهنمل يا بالاتر ازآن باشد .

٢ـ فعاليت علمي پو هنيارو پوهنمل توسط استادا نيكه رتبه علمي آنها پوهندوی يا بالاتر از آن باشد .

٣ـ فعاليت علمي پو هنـدو ی و پوهنوال تو سط استادا نيكه رتبـه علميآنهاپو هنوال ويا پو ها نـد باشد.

٤ـ فعاليت علمي پو ها ند توسط بورد علمي وزا رت تحصيلات عالیو مسلكی.

**درويشتمه ماده :**

د پو هنتون د علمي کدر غړي چي په ټاکلي موده کښي يی لوړی علمي رتبې ته ترفيع نه وی کړی، د ترفيع نه کولو علت د لاندی مراجعو له خوا ارزيابی کيږی او د واکمنو مقا ماتو له خوا په دی هکله تصميم نيول کيږی :

۱ـ پو هيالی ، پو هنيار او پوهنمل د پو هنتون د علمي شورا له خوا .

۲ـ پو هندوی او پو هنـــوال د لوړو او مسلکي زده کړو د وزارت د علمي بورد له خوا .

**خلرو يشتمه ماده :**

که چيری د استاد د علمي اثـر ارزيابی په پو هنتون کښي ميسره نه وی د پو هنتون رياست کـولای شی چي د کانديد اثر په هيـــواد کښي د ننه يا بهر علمي عالـــــی موسسو يانورو کدرونوته راجع کړی.

**پنځه ويشتمه ماده :**

هغه استادان چي د دکتــورا د درجي له اخستلو نه وروسته دخارج په پوهنتو نونو کښي د پروفيسور يا د پرو فيسور د مرستيال ، پـــه توگه کار وکړی د هغوی د علمـــی مدارکو له ارزيابی نه وروسته د دی مقرری د حکمونو په پام کښي نيولو سره په بهر کښي د تحقيـــــق او تدريس موده د هغوی د علمـــــــی ترفيع په قدم کښي شميرل کيږی.

**ماده بيستو سو م:**

اعضای کدر علمی پو هنتو ن کـه داخل ميعاد معينه به رتبـــــه علمی بلند تر تر فيع نکرده باشند علـت عدم تر فيع تو سطمرا جع ذيل ارزـ يابی وازطر فـمقا ماتذيصلاحدرمورد تصميم اتخاذ ميگردد :

۱ـپو هيا لی ، پوهنيار،وپوهنمل توسط شورای علمیپو هنتو ن.

۲ـ پو هندوی وپو هنوا لـتوسط بورد علمی وزا رت تحصلا ت عا لیو مسلکی.

**ماده بيستو چهارم :**

هرگاه ارزيا بی اثر علمی استـاد درپو هنتون ميسر نباشد رياســـت پوهنتون ميتوا ند اثر کاند يد را به موسسات عالی علمی يا کدرهــای ديگردرداخليا خارج کشور را جــع سازد .

**ماده بيستو پنجم :**

استادا نيکه بعد از ا خـذ در جه دوکتورا در پوهنتو ن های خار ج به حيث پرو فيسور يا معا ونپروفيسور کارنماينه بعداز ار زيا بی مدا رك علمیشان با در نظر داشت احکاماين مقرره مدت تحقيق وتدر يس درخاـ رج بقدمتر فيععلمی شان محا سبــه ميگردد.

## پنځسم فصل

### انفکاك

**شپږ ویشتمه ماده :**

د پو هنتون د علمي کدر غړی په لاندی حالاتو کښي خپله علمي رتبه له لاسه ورکوی :

**۱ـ که چیری له هیواد نه بهر** د لوړو زده کړو موفقانه سند په لاس رانه وړای شي .

۲ـ که چیری د جنایت یا جنجي په جزا محکوم شي .

۳ـ که چیری یی له دری پرله پسی کلونو نه زیات د لوړو او مسلکي زده کړو د وزارت په‌چوکات کښي د تدریس دنده پاي ته نه‌وی رسولی او په اوني کښي یی لږ تر لږه څلور ساعته تدریس نه وی کړی .

٤ـ که چیری د علمي کدر بست لغو شي .

که چیری د علمي کدر بست بیا منځ ته راشي کولای شي چی د حقوقو په ساتلو سره په علمي کدر کښي شامل شي .

**اوه ویشتمه ماده :**

که چیری د علمي کدر غړی د هغو حالاتو نه پرته چی د دولت له خوا په بله وظیفه موظف شي د پوهنتون د علمي کدر نه یی علاقه قطع کړی وی په علمي کدر کښي‌یی

## فصل پنجم

### انفکا ك

**ماده بیست‌و ششم :**

عضو کدر علمي پو هنتو ن در حالات‌ذیل رتبه علمي خود را ازدست میدهد :

۱ـدر صورتیکه سند مو فقا نه تحصیلات عا لی را ازخا رج کشور بدست آورده نتوا ند .

۲ـ درصور تیکه بجزا ی‌جنا یت یاجنحه محکوم گردد.

۳ـ در صور تیکه بیش از سه سال متوا تر وظیفه تدر یس را در چوکات‌وزا رت تحصیلات عالی و مسلکی‌ایفا نه نموده وحد اقل چهار ساعت در یك هفته به تدر یس نپردا خته‌باشد .

٤ـدر صور تیکه بست کدر علمي ملغی گردد.

هرگاه بست کدر علمي‌مجددا به وجود آید میتوا ند با حفظ حقو ق شامل کدر علمي گردد.

**ماده بیست‌و هفتم :**

هرگاه‌عضو کدر علمي با ستثنا ی حالاتیکه از طر ف دولت‌به وظیفه دیگری موظف گرد یده از کدر علمي پوهنتون قطع علاقه نموده با شد

د پخوانی رتبی په ساتلو سره یی بیا شمولیت یواځی یو ځلی جواز لری .

**اته ویشتمه ماده :**

د علمی کدر د غړو د انفکاك منل د هغو مراجعو له خوا کیږی چی دهماغی رتبی دمقرری دمنظوری واك لری .

**نه ویشتمه ماده :**

لهعلمی کدرنه استعفا د پوهنتون د رئیس له موافقی او د اصولی پړاوونو له وهلو وروسته صورت مومی .

**دیرشمه ماده :**

ددی مقرری له نفاذ نه ددری کلونو ترپایه پوری ، هغه علمی آثار چی داستفادی وړ او د چاپ لپاره چمتو وی د دی مقرری دشپاړسمی مادی د مندرجو چاپ شویوآثارو پر ځای منل کیدلای شی .

**یو دیر شمه ماده :**

دغه مقرره په رسمی جریده کښی له خپریدلو وروسته نافذ یږی . ددی مقرری په نفاذ سره د علمی کدردغړو تر فیعات تر یو کال پوری دکابل پو هنتون د علمی هیأت د لایحی د مندرجو شرطونو تابع دی .

شمولیت مجدد اودر کدر علمی بإحفظ رتبه سابقه صرف برای یکمر تبه جواز دارد.

**ماده بیستو هشتم :**

قبو لی انفکاك اعضای کدر علمی ازمرا جعی صو رت میگیر ند که صلاحیت منظو ری مقر ری همان رتبهرا دارد .

**ماده بیستونهم :**

استعفا از کدر علمی بعد ازموافقه رئیسپوهنتون وطی مرا حل اصولی صورت میگیرد .

**ماده سی ام:**

از تاریخ نفاذ این مقرره ا لی ختمسه سا ل،آثار علمی که قا بل استفا دهوآما ده طبع باشد عو ض آثار طبع شده مند ر ج مادهشانزدهم این مقرره قبول شده میتوا ند.

**ماده سیو یکم :**

این مقرره بعد از نشر در جر یده رسمینافذ میگردد ، با نفا ذ این مقرره ترفیعات اعضای کدر علمی الی مدت یکسا ل تابع شرا یط مند رج(لایحه هیئت علمی پو هنتو ن کابل) میباشد .

# رسمی جریده

## د عدلیې وزارت ته !

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا رئیسه هیات د ۱۳۵۹ کال د عقرب دمیاشتی د نه ویشتمې نیټې په غونډه کښې د عدلیې د وزارت د ۱۳۵۹ کال د عقرب د میاشتی د اته ویشتمې نیټې «۲۲٤٥» گڼې عرض پاڼې ته په کتنه د پاسپورت د قانون څلورمه گڼه ضمیمه په اتو مادو کښې تصویب کړه .

د پورتني تصمیم مراتب چې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا دمحترم رئیس له خوا منظور شوی او د انقلابي شورا د ۱۳۵۹ کال د قوس د میاشتی د شپږمې نیټې په (۱۳۰۳) گڼه فرمان عظمی صدارت ته ابلاغ شوی تاسې ته خبر درکړ شو چې په رسمي جریده کښې د نوموړی ضمیمې خپرو لو ته اقدام وشي .

**سلطا نعلی کشتمند**

**د انقلابي شورا مرستیال**

**او د صد راعظم مرستیال**

## به وزارت عدلیه !

هیات رئیسه شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان درجلسه تاریخی ۲۹ر۸ر۱۳۵۹ با ملاحظه ورقه عرض شماره «۲۲٤٥» مورخ ۲۸ر۸ر۵۹ وزارت عدلیه ضمیمه شماره چهارم قانون پاسپورت را بداخل هشت ماده تصویب نمود .

مراتب تصویب فوق که به منظوری محترم رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان رسیده و به فرمان شماره (۱۳۰۳) ٦ر۹ر۱۳۵۹ هیات رئیسه شورای انقلابی به صدارت عظمی ابلاغ گردیده بشما خبر داده شد تا در نشر ضمیمه مذکور در جریده رسمی اقدام بعمل اید .

**سلطانعلی کشتمند**

**معاون رئیس شورای انقلابی**

**و معاون صد راعظم**

## د پاسپورت د قانون څلورمه‌ګڼه ضميمه

**لومړی ماده :**

حکومت کولای شي په مشخصو حالاتوکښې په بهر کښې‌اوسيدونکی هغه شمير افغاني اتباع چې د پاسپورت د محصول د ورکړې وسه نه لري په قسمي يا کلي ډول د پاسپورت له‌محصول نه معاف کړي.

**دوهمه ماده :**

هغه افغاني محصلين چې د پاسپورت د قانون له نافذيد لونه د مخه د افغا نستان د دمو کراتيك جمهو ريت د حکومت له موافقي نه پرته په بهر کښې په زده کړه‌بوخت شويدي ، د زده کړې د دوام په حالت کښې د زده کړې د ځای د هيواد د تعليمي مقاماتو په تصديق او په نو موړي هيواد کښې د افغاني سياسي يا قونسلي نمايند ګيو په تائيد د عادي پاسپورت چې په «تحصيلي» مهر ، مهر شوی وي مستحق کيږي .

**دريمه ماده :**

۱ــ د دې ضميمي د دوهمې مادې مندرجو اشخاصو ته د زده کړې په منظور عادي پاسپورت د بيې او دوه زره افغانيو محصول او يا د زده کړې د ځای د هيوادپه‌رايجو پيسو د هغو د معادلو په مقابل

## ضميمه شماره چهارم قانون پاسپورت

**ماده اول :**

حکومت ميتواند ، در حالات مشخص آن عده از اتباع افغاني مقيم خارج راکه توان تاديه محصول پاسپورت را نداشته باشند قسما يا کلا از محصول پاسپورت معاف گرداند .

**ماده دوم :**

محصلين افغاني که قبل ازنفاذ قانون پا سپورت بدون موافقهٔ حکومت جمهو ري دمو کرا تيك افغا نستان در خارج کشورمصروف تحصيل گرديده اند در حالت دوام تحصيل به تصديق مقامات تعليمي کشور محل تحصيل و تاييد نمايندگي سياسي يا قنسلي افغاني مقيم کشور مذکور مستحق پاسپورت عادي که بمهر «تحصيلي» ممهور باشد ، ميگردند .

**ماده سوم :**

۱ــ پاسپورت عادي بمقصد تحصيل براى اشخاص مندرج ماده دوم اين ضميمه دربدل قيمت وتاديه‌محصول دوهزار افغاني يامعادل آن به پول رايج کشور محل تحصيل صادر

کښې صادر يږي اود يو کال لپاره اعتبار لري .

د زده کړې د دوام په صورت کښې د پاسپورت د قانون له حکمو نو سره سم د زده کړې تر پايه پورې د دې هر کال ضميمې د ټاکلې محصول د ورکړې په مقابل کښې د تمديد وړ دي .

۲ـ د دې مادې د لومړي فقرې مندرج د زده کړې په منظور د عادي پاسپورت په صادريد لوسره دمحصل پخواني پاسپورت دسياسي يا قونسلي نمايندگۍ له خوا د (باطل شو) په مهر باطل او د بهرنيو چارو وزارت ته ليږل کيږي .

### څلور مه ماده :

که چيرې د دې ضميمې د دوهمې مادې مندرج محصل د رخصتيو د ورځو د تيرولو لپاره وطن ته بيرته راشي ،د زده کړې د دوام دتصديق په ښودلو سره چې د افغاني سياسي يا قو نسلي نماينده لهخوا تائيد شوي وي، کولاېشي پههماغه پاسپورت د زده کړې په منظور لاړ شي . د پاسپورت د اعتبار د مودې د پاى ته رسيدلو په صورت کښې د کورنيو چارو د وزارت له خوا د بيې او دوه زره افغانيو محصول د ورکړې په مقابل کښې د

گرديده وبراى مدت يکسال اعتبار دارد درصورت دوام تحصيل مطابق احکام قانون پاسپورت ، تاختم دوره تحصيل سالانه دربدل تاديهمحصول معين اين ضميمه قابل تمديد ميباشد .

۲ـ با صدور پاسپورت عادى بمقصد تحصيل مندرج فقره اول اين ماده پاسپورت قبلى محصل توسط نمايندگى سياسى يا قنسلى با مهر باطل شد ، باطل و بهوزارت امور خارجه ارسال ميگردد .

### ماده چهارم :

هر گاه محصل مندرج ماده دوم اين ضميمه براى سپرى نمودن ايام تعطيل به وطن عودت کند در صورت ارائه تصديق ادامه تحصيل که توسط نمايندگى سياسى يا قنسلى افغانى تاييد شده باشد ، ميتواند بعين پاسپورت بمقصد تحصيل عزيمت کند . در صورت ختم مدت اعتبار پاسپورت ، دربدل قيمت و تاديه دو هزار افغانى محصول ، پاسپورت عادى بمقصد

زده کړی په منظور عادی پاسپورت صادر یږی .

**پنځمه ماده :**

د دی ضمیمی د محصلینو د ازواجو لپاره د دی ضمیمی دمندرجی بیی او محصول په مقابل کښی ځانګړی پاسپورت صادر یږی .

**شپږمه ماده :**

د زده کړی او ستاژ له پای ته رسید لونه وروسته وطن ته د راستنیدلو په منظور ، په ټاکلی وخت کښی د نه د پاسپورت اعتبار د افغانی سیاسی یا قونسلی نماینده ګی له خوا په وړیا ډول تمدیدیږی.

**اومه ماده :**

حکومت کولای شی په خاصو حالاتو کښی ځینی افغانی اتباع چی د خپلوانو د لیدلو یا کار په منظور له هیواد نه بهر ځی ، د پاسپورت د قانون د څلور او پایمی مادی له مندرج تضمین نه معاف کړی .

**اتمه ماده :**

دغه ضمیمه په رسمی جریده کښی خپریږی اود افغانستان دد دمو کراتیك جمهوریت د انقلابی شورا د رئیسه هیات د تصویب له نیتی نه نافذه ده .

تحصیل از طرف وزارت امور داخله صادر میگردد .

**ماده پنجم :**

برای از واج محصلین ماده دوم این ضمیمه پاسپورت علیحده دربدل قیمت و محصول مندرج این ضمیمه صادر میگردد .

**ماده ششم :**

بعد از ختم تحصیل و ستاژ ، اعتبار پاسپورت به مقصد عودت بوطن در قید وقت معین از طرف نمایندگی سیاسی یا قنسلی افغانی مجانا تمدید میگردد .

**ماده هفتم :**

حکومت میتواند در حالات خاص بعضی از اتباع افغانی را که بمقصد دیدن اقارب یا کار عازم خارج کشور میگردند از تضمین مندرج ماده هفتاد و چهارم قانون پا سپورت معاف گرداند .

**ماده هشتم :**

این ضمیمه درجریده رسمی نشر و از تاریخ تصویب هیات رئیسه شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغا نسبتان نافذ میباشد .

## وجه اشـــتراک

مرکز ۳۰۰ افغانی

ولایات ۳۴۰ ″

برای محصلان و متعلمان نصف قیمت

خارج کشور ۵۰ دالر امریکائی

قیمت این شماره (۳۰) افغانی

THE DEMOCRATIC REPUBLIC
OF AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

Editor: A. Ghafar Giramy
Assistant: Rogul Noory
Issue No. (467)
Date: December 6, 1980

دچاپ شمیر (۳۵۰۰) نسخی
دولتی مطبعه